# د پښتونخوا مقدمه

هدايت الله خان

دوېم اعتراض: د پښتونخوا نوم د پاکستان د نظرياتي اساس سره متصادم دے.

دا اعتراض هوش و حواس لرونکے او باشعوره انسان په دې سوچ کولو مجبوروي چې د پاکستان نظرياتي اساس د دغه اساس جوړونکو قامونو د حقوقو په غصب کولو قائم شوے ؤ. آيا د نظريۀ پاکستان مفهوم دا ؤ چې په پاکستان کښې شرکت کونکي قامونه دې د خپلې پېژندګلو او حقوقو نه محرومه کړے شي. پرون د بنګاليانو جائز حقونه او غوښتنې ونۀ منلې شوې او د بنګالي ژبې د غوښتنې په ځواب کښې ئې اُردو په زور په هغوي وروتپله. هغه وخت هم مسلم ليګ، پنجاب او د ابلاغ په ذريعو قابضو تش په نوم دانشورانو ته بنګالي ژبه د پاکستان د نظرياتي اساس سره متصادم ښکاربده. د نورو قامونو په شان بنګالي قام هم د زرګونو ميلونو د لريوالي، د زمکنې يووالي د نشت او د يو ځانله قامي او لساني تشخص باوجود د پاکستان په وفاق کښې شموليت په دې شرط او امېد اختيار کړو چې پاکستان کښې به د دوي تشخص او د دې سره د وابسته ټولو حقونو احترام کېږي. د 1940 په قرارداد کښې د خودمختار رياستونو (Sovereign States) الفاظ ليک دي. وروستو په قرارداد کښې د دې الفاظو د بدلون په حواله د بحث ډېر ګنجائش موجود دے خو دا وخت د مضمون د اوږدوالي له وجې دا بحث نۀ چېړو. کۀ د برصغير د وېش او د دې سره تړون لرونکو نظرياتو او واقعاتو جائزه واخلو نو د دې خلاصه په يو اځينۍ دې نکته کښې کېږي چې په متحده هندوستان کښې د غالب هندو اکثريت له وجې د مسلمانانو د حقوقو تحفظ ممکن نۀ ؤ، دا نکته د پاکستان د جوړولو دعوي' لرونکي مسلم ليګ او د دې وکالت کوونکي دانشورانو مطابق د تحريک پاکستان اصل مظهر ؤ.

د مسلمانانو د حقوقو د تحفظ په نوم د جوړ شوي ملک د تاريخ الميه وګورئ چې کومو مسلمانانو قامونو په دې امېد په دې کښې شموليت کړے ؤ چې دلته به د هغوي د حقونو تحفظ کېږي، دلته همېشه د هغه قامونو حقونه تروړلي شوي دي او د دې روېې او طرز عمل ته د ملک د "نظرياتي اساس" نوم ورکړے شوے دے.

دلته دا خبره هم کول ضروري ده چې پاکستان کښې شموليت کوونکو قامونو د دې ډېر لوئے قيمت ادا کړے دے. د بنګاليانو، سندهيانو او بلوچو مثالونه خو ښکاره دي. دلته مونږ صرف د پښتنو مثال ورکوو. د هندوستان نه درامد شوې اُردو ژبه د نظريۀ پاکستان او قامي يووالي په نوم د دې ځائے په اوربجنل قامي ژبو په زور ورسوره کړې شوه. دې قبضې د پښتون قام ضخيم لټرېچر، بې پناه عملي خزانه او د زوړ تاريخ لرونکي پښتو ژبې ترقي ودروله او دا ئې بېخي شله کړه. نن د پښتون قام يو پوره نسل د نصابي کتابونو او ذرائع ابلاغ له برکته او د مکملې سرکاري سرپرستۍ په وجه د

اُردو ادب، تاریخ او اُردو شاعرانو میر درد، میر تقي میر، مرزا غالب، داغ، مومن، اکبر الـه ابادي وغېره نۀ خو ښۀ خبر دي خو د خپلې ژبې د سترو شاعرانو ادیبانو د فلسفیانه خیالاتو او د ژوند نه ډکې شاعرۍ او لیکونو نه بېخي نابلده دي. د خوشحال خان خټک د مردانګۍ، خودۍ، شاهین او حریت د فلسفې نه ډکه شاعري چې د علامه اقبال شاعرۍ ته ئې رنګ او رڼا بخښلې ده یا د تصوف په ښکلي رنګونو رنګینه د رحمان بابا شاعري، د غزل د بابا امیر حمزه خان شینواري غزل نګاري یا د جمالیاتي حس او غېرت او حریت نه ډکه د غني خان فلسفیانه شاعري یا د استحصالي نظام او سماج وهلي شوي د غریبو او محکومو طبقو نمائندګي کوونکې د قومي او انقلابي شاعرۍ خالقان اجمل خټک او رحمت شاه سائل. دا او دغسې نور بې شمېره نومونه د نوي پښتون نسل دپاره دومره نااشنا دي څومره چې د کومې بلې ژبې د ویونکي دپاره دي. د پردۍ ژبې په وېنا کښې چې د لهجې او ادائیګۍ کومې غلطۍ کېږي دا قدرتي خبره ده. دا خبره په سکولونو کښې سبق ویونکو پښتنو ماشومانو او د صوبې نه بهر پاتې کېدونکو پښتنو دپاره یو پېغور جوړ کړے شوے دے چې د دوي په نفسیاتو کښې ئې د ندامت او شرمندګۍ یو احساس پېدا کړے دے. د دې په نتیجه کښې په دغه علاقو کښې اوسېدونکي پښتانۀ په خپلو کورونو کښې د خپلو ماشومانو سره په اُردو وئیلو مجبوره دي او دغه شان د اُردو د لهجې په سمولو سمولو کښې د خپلې ژبې لهجه بلکې خپله ژبه هېروي.

اقوام متحده په خپل یو تحقیقي رپورټ کښې په دنیا کښې وئیلې کېدونکې کم و بېش شپږ زره ژبو کښې د سرکاري عدم توجهۍ او عدم سرپرستۍ په وجه د نیمې نه د زیاتو ژبو د ورکېدو ویره ښکاره کړې ده.

یوه ژبه پښتو چې د دنیا په یو ملک افغانستان کښې قامي او سرکاري ژبه ده او د تعلیم ذریعه هم ده او د اقوام متحده په تسلیم شوو خوارلسو ژبو کښې هم شامله ده. د دغه ژبې حېثیت په پاکستان کښې د علاقائي او دوېمې درېمې درجې د ژبې دے او په دې صورت حال کښې دې ژبې ته دلته د بقا مسئله ورپېښه ده. دوېم مثال د پښتنو د ویاړ نه ډک شاندار تاریخ دے چې په پاکستان کښې په ورکېدو دے.

د بادشاهۍ او ملک ګیرۍ په هوس کښې د منګولیا نه راغلي مغل یرغلګرو دلته په خپله سوونه کاله حکمرانۍ کښې د عیاشیانو او عشق معاشقو نه او د هغې په یاد کښې د جوړې کړې شوو مقبرو، باغونو او یادګارونو نه علاوه د برصغیر د خېر ښېګړې او ترقۍ دپاره هېڅ تعمیري کار نۀ دے کړے او د خپلو نا اهلیو او کوتاهیو په وجه ئې برصغیر د پېرنګي د مهم جویۍ دپاره اسان کړے دے. د تاریخ په نصابي کتابونو کښې د دې حکمرانانو تاریخ ډېر په اهتمام او ویاړ وړاندې کولے شي لېکن بل طرفته پښتون هیرو شېرشاه سوري چې په 1540 نه ئې 1545 پورې صرف پنځۀ کلونو کښې د برصغیر د خلقو دپاره هغه کارنامې وکړې د کومې چې هغه وخت هم عصر یورپ کښې هم تصور نۀ شو کېدے او احمد شاه ابدالي چې د

مرهتـو بـې پنـاه فـوځي قـوت ئـې وچقولـو او د مسلمانانو بقا ئې یقیني کړه، دا داسې مثالونه دي چې د دې شاندار تاریخ د تفصیلاتو نه پښتون بچې ته ښودونکي کتابونه محروم دي. په دې حواله نور مثالونه هم ورکېدے شي چې پښتنو د پاکستان د یوې اکایۍ پاتې کېدو دپاره ځومره قربانۍ ورکړې دي او څنګه ئې د "قامي یووالي او نظریاتي اساس" په نوم خپلې قامي اثاثې او سرمایې له لاسه ورکړې. نن د دغه نعرو په وجه پښتنو ته د خپلې پېژندګلو د بقا مسئله ورپېښه ده او دلته زمونږ بحث هم د دې موضوع پـورې محدود دے. لهٰذا د دې ټول بحث خلاصه دا ده چې د پاکستان نظریاتي اساس دې د قومونو په حق تروړلو ولې ودرولے شي؟ په ځائے د دې، د دې خبرې د ادراک کولو ضرورت دے چې دا اساس د دې قامونو د حقونو په تحفظ او احترام کولو ولاړ پاتې کېدے شي.

دریم اعتراض: پښتونخوا نوم ټیک نۀ دے د دې په ځائے دې دې له خیبر، اباسین یا اسلامیه وغیره نوم کېښودے شي. د پښتونخوا په حواله دا تجویز انتهائي نامعقول بلکې د ټوقو مسخرو دے. دا تجویز وړاندې کوونکي ناعاقبت اندیش خلقو له پکار دي چې د دې مسئلې په اصل روح (Essence) ځان پوهه کړي.

دا مسئله د پښتون قام د قامي شناخت مسئله ده چې **1893** او **1901** کښې د پېرنګي سامراج فارورډ پالیسۍ راپېدا کړې ده. د پېرنګي حکومت د ختمېدو او پاکستان د جوړېدو نه پس په منطقي توګه خو پکار دا وه چې دا د پېرنګي نخښه او د غلامۍ یادګار ختم کړے شوے وے او د پښتنو وطن ته خپل پخوانے او اصلي نوم ورکړے شوے وے خو نن څۀ د پاسه شپېتۀ کاله تېرېدو نه پس هم نۀ صرف دا چې د پېرنګي ورکړے شوے نوم موجود دے بلکې د خپل پخواني او تاریخي نوم بحالولو نه انکار هم کولے شي. د سوچ خبره دا ده چې د پېرنګي د تلو نه پس په پاکستان کښې د صوبه سرحد هغه وجه تسمیه هم نۀ ده پاتې کوم چې د هغـوي پـه دور کښـې وه، څنګـه چـې دا مسـئله لساني نۀ ده دغسې د دې نوعیت صرف جغرافیائي هم نۀ دے چې د دې صوبې جغرافیائي بندوبست او جوړښت د دې په جغرافیه کښې موجود د کوم غر، درې، سیند یا بل کوم زمکني څیز سره منسوب کړے شي. کۀ دا کول مقصد وي نو بیا په اوسني نوم کښې څۀ خرابي ده؟

څوک چې دا قسم تجویز ورکوي نو دا دې یاد وساتي چې پښتون قام بې نومه نۀ دے، دا د دنیا په قدیم ترینو قامونو کښې شامل دے او د شپږو زرو کالو نه د دې نوم سره د یو زړو تاریخ، تهذیب او شناخت امین دے. پښتنو ته د خپل قامي شناخت دپاره د "خامخا" نوم ضرورت نشته. دې قام یا دې وطن ته کۀ څۀ هم نوم ورکړے شي، د دوي اصلي نوم به بیا هم ژوندے وي. دا پوره نۀ ده چې د سلو کالو نه زیات وخت تېرېدو نه پس هم پښتانۀ د صوبه سرحد په حواله "سرحدیان" یاد نۀ شول. په اصل کښې پښتون قام ته د شناخت او پېژندګلو مسئله نۀ ده ورپېښه بلکې مسئله خو د قامي تشخص او شناخت د اظهار د قامي او انساني حق ده.

(نور بیا)